


# شملې او لوپټې

(د کوچیانو او زلمیانو لپاره خواږه شعرونه)

محمد نواز حقیقت سانین

د ماشومانو د ادب بابا

۱۳۹۴ لمریز کال

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شملې او لوپټې

(د کوچنيانو او زلميانو لپاره خواږه شعرونه)

ليکوال:

**محمد نواز حقيقت سانين**

**۱۳۹۴ل کال**

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# كتاب پېژندنه:


د كتاب نوم: شملې او لوپټې

شاعـــــر: محمد نواز حقيقت سانين

خپرونـدى: د افغانستان ملي تحريك، فرهنګي څانګه

وېــبپـانـه: www.melitahrik.com

كمپوز: ف. حميد

پښتي ډيزاين: فياض حميد

چـاپشمېـر: ۱۰۰۰ ټوكه

چـاپـكـال: ۱۳۹۴ ل كال/ ۲۰۱۵م

د تحريك د خپرونو لړ: (۱۱۶)


يادونه: د چاپ حقوق له ملي تحريک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسوليت ليکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

خوږ او ګران تنکي زلمي شهید احمد شاه (ازاد) ته، چې د وطن په مینه په وینو ولمبېده.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحريك يادښت

د افغانستان ملي تحريك د (۱۳۹۳ ل) کال په پيل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهير کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل ديني، علمي، ادبي او ټولنيز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحريک دا ژمنه د ياد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د يوې پرتمينې غونډې په ترځ کې يې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحريک په ياده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهير کې به انشاء الله د خدای (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبيعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دی، ډېر زيات زيار او زحمت ته اړتيا لري، خو ملي تحريک ټينګ هوډ کړی چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملي کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دی د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دی، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحريک هيله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحريک له ټولو هغو ليکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندويانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهير کې يې يو بل سره مرسته او ملګرتيا کړې او دا فرهنګي بهير يې بريالی کړی، د زړه له کومې مننه کوي او کور وداني ورته وايي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هيله

د افغانستان ملي تحريک فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شمله او لوپټه

# د فرهنګي او ادبي غوره کارونو

# ښکاره ثبوت

د دري لسیزو زیات وخت کېږي چې زه قدرمن او خوږ ورور د ښه قلم او ژور فکر خاوند الحاج محمد نواز حقیقت سانین سره د ملګرتوب اړیکي لرم او ښه یې پېژنم، چې د علمي، فرهنګي ادبي، تاریخي او سیاسي کتابونو د لوستلو سره زیاته مینه لري. زه یې د وطن د یو بلبل په توګه پېژنم، چې د هېواد د کوچنیانو او تنکیو ځوانانو، هلکانو او نجونو سره ربښتیني مینه او شفقت لري. په ظاهره خاموش خو ربښتیا خبره داده چې نوموړی چالاك، حاضر جواب، هوښیار، با اراده، په خپلو کارونو کې ناقرار او د ډېرو لوړو ارمانونو لرونکی او د یو ښه ښوونکي او استعداد لوړ صفات لري.

په ۱۳۵۶، ۱۳۵۵، ۱۳۵۴ کلونو کې نوموړي د پکتیکا ولایت خیرکوت په پوځي فامیلیو کې د تنکیو کوچنیانو هلکانو او نجونو د پاره ښوونیز روزنیز د زده کړو کورسونه لرل. چې پرته د ښوونځیو درسونو، خوش نویسۍ، فرهنګي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادبـي کارونـه او ورزشـي، تفریحـي پـه زړه پـورې پلانونـه یـې درلودل او دغه پروګرامونه په ښه تدبیر سره په عملي توګـه مـخ ته روان و. چې ډېرو تنکیو کوچنیانو بـه پـه مینـه ګـډون درلـود. سهار، غرمه، مازیګر به کوچنیان ډله ډله لکه بوراګـان پـه نـاز ناز د کورس محل ته تګ راتګ کاوه. زه بـه هـم کلـه نـا کلـه پـه خپل زوق سره د کورس محل تـه تلـم راتلـم، هغـه وخت حقیقت سانین ځـوان او یـو ښـه ویښ افسـر پـه توګـه پـه لېـوا کـې دنـده درلـوده او پـه پـوځي دریشـي کـې بـه سـانین د کوچنیـانو سـره ځنګ په ځنګ یو ځای ښکارېده.

نومـوړی بـه تـل د کوچنیـانو او خپلـو زده کوونکـو سـره پـه بېلابېلـو ښـوونیزو او روزنیـزو چـارو کـې پـه ښـه تـدبیر درسـي میتودونو په عملي کارونو بوخت ښکارېده. بایـد یادونـه وکـړم چې یو شمېر لایقه ښوونکو بـه د سـانین صـیب سره پـه اخـلاص او مینه په درسي چارو کـې ملګرتـوب کـاوه او کوچنیـان بـه یـې فرهنګـي، ادبـي او درسـي کـارونو تـه هڅـول، دا خبـره هـم د یـادولو وړ ده چـې د کـورس شـاګردانو هلکـانو او نجونـو بـه د خپلـو کورونـو ځنـې پـه ډېـره مینـه د مشـرانو پـه مهربـانۍ او هدایت د کورس اداري ته تـازه او وچـې مېـوې د شـیدو چـای او نور خوراکي توکي په پېرزوینې سره راوړل او د کورنیو مشرانو به هم په مینه ګډون کاوه. یوه د بـاور وړ رنګینـه فضـا بـه جـوړه وه او ټول کارونه مخې ته ښه روان و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کورنیو مشرانو به په عملي ډول د سانین صیب عملي کارونه په سترګو لیدل او د کوچنیانو درسي روحیه او لیاقت به ورځ په ورځ پراختیا موندله. د محل خلکو پوره رضایت او خوښي ښودله پته دې نه وي چې د کورنیو مشرانو به سانین صیب ته یو څه اندازه روپۍ هم نقدي ورکولې، یوه ورځ مې سانین څنې پوښتنه وکړه چې سانین صیب څو اندازه روپۍ په میاشت کې برابرېږي، سانین راته په موسکا شو او راته یې وویل، زه دغه کار د امتیاز او پیسو د پاره نه کوم، که چا راته راکړلې ښه او که رانه کړې نو پوښتنه نه کوم، سانین صیب راته وویل چې زه په مینه او شوق د کوچنیانو لپاره دغه کارونه کوم، د ۱۵۰ څنې زیات شاګردان لرم، چې چاته مې د پیسو راکړه خبره نه ده کړې، سانین به تل د کوچنیانو سره په درسي خونه کې یا خپل محل کې د توري تختې څنګ ته د تباشیر سره د وطن د بچیانو د فکر او پوهې پراختیا په منظور د یو ښه دردمند ښوونکي په توګه غوره کارونه او تمرینونه ترسره کول.

دا خبره ضروري ده چې یادونه یې وکړم، سانین صیب د لوړو اخلاقو او اعتماد په لرلو سره د محل ټول مشران او ځوانان خپل کړي وو. او د نوموړي سره یې زیاته مینه درلوده او درناوی یې ورته کاوه، د کورس دغه روزنیز او ښوونیز پروګرامونه چارې د پوځي لوا په انګړ کې چې ((کانتین باغ)) په نوم یادېده، تنظیم شوی وي او په دغه پوځي محل د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت قوماندان محترم ډګروال صاحب قادر له خوا د سانين او د محل کوچنيانو د زده کړو لپاره په اختيار کې ورکړل شوی و، چې د وطن د بچيانو د پوهې په ګاڼه د سمبالېدو ملي ارمان يې لرلو او په خپله قوماندان د وخت يو پوهه مسلکي علمي شخصيت ګڼل کېده، چې د سانين سره يې ډېره مينه او نږدې اړيکي لرلې، چې د قوماندان بچيان هم په کورس کې تنظيم وو.

سانين صيب به د هېواد د ملي ورځو، لکه د خپلواکۍ جشن، د ښوونکي ورځ، د مور ورځ او داسې نورو تاريخي ورځو کې د کورس د شاګردانو له خوا به زړه پورې ترانې سندرې او نمايشي د پند او عبرت ډك پروګرامونه ولسونو ته په لوړه روحيه وړاندې کول. چې د ترانو زمزمې او شعرونو ترنم او د کوچنيانو نمايش به خلکو ته د تل لپاره په ياد پاتې کېده. زما د معلوماتو له مخې سانين صيب تر اوسه د کوچنيانو او ځوانانو لپاره د ۳۵۰ غونډو څنې زياتې فرهنګي، ادبي او تفريحي غونډې په بېلا بېلو عنوانو ولسونو ته عملي وړاندې کړې دي.

ډېر زيات شمېر کتابونه يې د هېواد کوچنيانو ته ليکلي، چې زيات يې چاپ او نشر شوي او زياتې ليکنې او شعرونه د هېواد په بېلابېلو ورځپاڼو، مجلو او راديو ټلويزيونو له لارې نشر شوي دي.

محترم سانين صاحب اوس د هېواد يو پېژندل شوی ليکوال او شاعر دی، نوموړي ته چې د کوچنيانو د پاره کلونه کلونه په مينه مينه عملي کارونه ترسره کړي، د هېواد ولسونو او نامتو فرهنګيانو ليکوالو او د هېواد يو شمېر پوهنتونونو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرهنګـي ادبـي ټولنـو د قلـم نړيـوالې ټولنې او د افغانسـتان د اطلاعـاتو او فرهنـګ وزارت د مقـام لـه خـوا د ((ماشـومانو د ادب بابـا)) د ويـاړ لقب ورکـړل شـوی دی. چـې دا د نومـوړي د لوړ فرهنګي او ادبي شخصيت ښکاره ثبوت دی او د فرهنـګ او ادب پـه لاره يـې سـتاينليکونه، ادبـي جـايزې نښـانونه او د سرو زرو مډالونه ترلاسه کړي دي.

سـانين صـيب د هېـواد د کوچنيـانو تـه د ادبيـاتو پـه برخـه کـې غـوره او د سـتاينې وړ خدمتونـه ترسـره کـړي، دغـه کتـاب د شملې او لوپټې، چې تاسو په خپله لاسونو کې نيـولی پـه روانـه ساده ژبه په خوند او پند ليکلی شوی په اخلاق او مينـه ولـولئ او په خپله د نوموړي په ادبي کارونو قضاوت وکړئ.

پـه پـای کـې نومـوړي منـل شـوي ليکوالـل تـه اوږد عمـر او پـه فرهنګي کارونو کې لا ډېر برياليتوبونه غواړو.

په ډېره مينه

سعادت ګل (اهنګر)

د پکتيکا پخوانی والي

کابل – چهلستون

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شملې او لوپټې

ډېرو خوږو او ګلالیو کوچنیانو او تنکیو ځوانانو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

دا ځل مې تاسو نازولو د پاره په مینه مینه د ((شملې او لوپټې)) په نوم یو ادبي ګل غنچه جوړه کړې ده. ادبیات لوستل د انسان ذهني او فکري قوت زیاتوي که تاسو د ښوونځي د درسي کتابونو سره ادبي کتابونه، لنډې کیسې، شعرونه او نظمونه ولولي او په خپلو کتابچو کې ولیکۍ نو پوره یقین لرم چې ستاسې د پوهې کچه به هرومرو زیاتېږي او ستاسې نه به ویښ، چالاکه، لایق، باعمله، باهنره مسلکي کدرونه او شخصیتونه جوړ شي.

د ادبیاتو لوستل او کتل ستاسې د فکر او خیالاتو د پراختیا د پاره په زړه پورې او د توجو وړ کار ګڼل کېږي.

خوږو ماشومانو او تنکیو ځوانانو! تقریباً ځلور لسیزې کېږي، چې زموږ د وطن په پاکه او جنتي خاوره کې د تېل شوي جګړې اورونه او لمبې په هره خوا کې ښکاري. چې نن موږ او تاسې د جګړو په تورو باروتو کې تورو شپو کې د اورونو د لمبو سره مخامخ یو. د هېواد شین اسمان د باروتو په تورو بوینو لمبو کې تور شوی او د لمر او د سپوږمۍ رڼا ګانې په تورو وریځو کې پټې شوې. ښارونه، کلي، کورونه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



روغتونونه، جماعتونه او ښوونځي د راکټو په بمونو سوزي دا هر څه په سترګو وینو.

د وطن په درنه غېږه کې دا توري شپې تاریخ نه شي هېرولی. زموږ زیات شمېر کوچنیان او ځوانان د تېل شوې جګړې د وحشت له کبله د سواد او زده کړو محروم پاتې دي. زموږ مشرانو هغه څه چې د کوچنیانو او ځوانانو د زده کړو او پوهاوي لپاره لازم ګڼل کېږي څه نه دي کړي. کوچنیانو او ځوانانو د روزنې او ښوونې په برخه کې شاته پاتې شوي یو. چې اوس هم د پردیو د غلامانو او ځانمرګو د بریدونو او دهشت له امله زموږ کوچنیان او ځوانانو ته د ښوونځیو دروازې تړل شوي او درسي کتابونه او قرانونه د پردیو د بریدونو او یرغلونو کې پانې پانې او خاورې ایرې شو.

زموږ وطن د خپلواکو ولسونو ټاټوبی دی او ډېر اوږد روښانه تاریخ لري. موږ یقینن او پوره باور لرو چې د نن ورځې تپل شوو جګړو لمن به ډېر ژر ټوله شي ځکه موږ ټول د امن امنیت او سولې غوښتنه لرو. په جنګ کې د پرمختګ کارونه ممکن نه دي. موږ به کوښښ وکړو چې ټول افغان ولسونه یو لښکر او د یو ملي ارمان د پاره په خپلو کې راغونډ شي. چې دا د وطن ارمان دی او د خپل وطن د ابادۍ او پراختیا د پاره په ګډه کارونه وکړو. خو موږ کوچنیان او ځوانان جې هر حالت وي په غور سره خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبقونه په مینه مینه ووایو او خپل ځانونه په مینه د علم او پوهې په ګانه سمبال کړو. که موږ هر څومره ډېر د علم او پوهې په ګانه سمبال شو په نتیجه کې به د تورتمونو پر ځای تل به رڼاګانو سره مخامخ یو او د وطن غېږه به د امن امنیت او سولې ټاټوبی وي او ټول افغانان به نېکمرغه او هوسا ژوند خاوندان شي.

په ډېره مینه او ادب
د ماشومانو د ادب بابا
الحاج محمد نواز حقیقت سانین
احمد شاه بابا مېنه
۱/۴/۱۳۹۴

(c) ketabton.com: The Digital Library





# لویه خدایه

لویه خدایه پورته کړي موږ لاسونه
غواړو ستا د لوی دربار نه رحمتونه

ته رحمان یې ته رحیم یې بې له شکه
غواړو ستا د لوی دربار نه جنتونه
بې رضا ستا یوه پاڼه نه رژیږي
په حکمت ستا ودرولي اسمانونه
دریابونه په غورځنګ دي ستا په حکم
ودرولي تا اوبو کې اوچت غرونه
رنګ په رنګه مخلوقاتو ته جهان کې
حواله دي ستا په امر خوراکونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په قلم مونږ ستا صفات لیکلی نشو
د دنیا اوبه که شي راته رنګونه
که زرګونه قلمونه کاغذ واخلو
څوک لیکلی نه شي ستا ټول صفتونه
ساری نه لري بې شکه چې خالق یې
نشته ستا په شان د هېچا قدرتونه
یک تنها یې یک تنها یې دا یقین دی
لویه ربه درنه ټول غواړو خیرونه
ستا د قهر نه امان او نجات غواړو
په دعا پورته کوو ټول خپل لاسونه

حقیقت کې یې پاچا د پاچاهانو
پیدا کړي تا ازمېښت ته عالمونه

(c) ketabton.com: The Digital Library





# خوږې مورې

مـــــورې ای زمـــــا خــــــوږې خـــــوږې مـــــورې
ای زمـــــا شـــــــیرینې او درنـــــــــې مـــــورې

تـــــا پـــــه مـــــا ګـــــاللي کړاونـــــه دي
ماتـــــه تـــــا راکـــــړي دي شـــــیدې مـــــورې
زه خـــــو یـــــوه قطـــــره دا ســـــتا د زړه یمـــــه
تـــــا راپســـــې کـــــړې شـــــوګیرې مـــــورې
ســـــاتم ســـــتا درســـــونه پخپلـــــه ذهـــــن کـــــې
ســـــتا پـــــه پیـــــو مـــــا کـــــړي مـــــزې مـــــورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



حق ستا زه په ژوند پوره کوی نه شم
شاتو نه خوږې ستا افسانې مورې
زړه مې په ټوپونو پاس فضا ته شي
ستا په نوم چې وايم ترانې مورې
ستا د پښو تل کې جنتونه دي
ما دي اوربېدلې دا کیسې مورې
ومنه سلام په دواړو لاسو مې
ای زما د مینې پرښتې مورې
تا باندې د ګلو پاڼې تل شیندم
تا نه تاووم د ګل غونچې مورې

تا ستایلی نه شم حقیقت کې زه
سترګو کې ستا ښکارې منارې مورې

(c) ketabton.com: The Digital Library





# اعلان

دا خټین خټین کورونه
دغه ښکلي ښکلي غرونه

دا زما د پلار وطن دی
دا زما د پلار مسکن دی
دا زما د زړه ګلشن دی
دا زما رنګین ختن دی
زه لرم ورسره مینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



جاروم ورځنې وینه
دا ساتم په محبت زه
ښه لرم ننګ او غیرت زه
ورنه سر قربانوم زه
ځان ستي ستي کوم زه

دا وطن نه پرېږدمه چاته
دا اعلان کوم دنیا ته

(c) ketabton.com: The Digital Library





# قلم

ويارېږي په هغو چې نازېږي په قلم
ارمانونه ليکل کېږي په قلم

توپ، راکټ، بوګنوي زړه د هر انسان ته
خفه زړونه خوشالېږي په قلم
ماشيندار او د بمونو لرو کرکه
هر انسان ډېر ښه ښکارېږي په قلم
نه به سترې نه ستومان به شي په ژوند کې
هغه څوک چې تل غړېږي په قلم
تورتمونه به يې لاره کې رنا شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې منزل ته روانېږي په قلم
قیمتي او د کمال ښکلې وسیله ده
عالمونه نژدې کېږي په قلم
د ژوند ستونزې هوارېږي په اسانه
چې په پوهه روانېږي په قلم
ناپوهي، بېسوادي يو لوی مرض دی
مرضونه شفاکېږي په قلم
بې قلم انسان ته زړه پرهر پرهر وي
پرهرونه ټکوربږي په قلم

په درې ګوتو حقيقت چې قلم اخلي
سپين کاغذ ډېر خوشالېږي په قلم

(c) ketabton.com: The Digital Library





# ترانه

# د بابا وطن

دا وطن دا وطن دا وطن زیبا وطن
دا وطن دا وطن دا مې د بابا وطن

مور یې اولادونه یو
مور تازه ګلونه یو
مور ټول لکه ورونه یو
نشته ښایسته داسې هېڅرې د چا وطن
دا وطـــن دا وطن دا مې د بابا وطن

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه د جرګو کور دی
دغه د شملو کور دی
دا د حماسو کور دی
دا د ننګ زانګو زموږ دا د زړه شفا وطن
دا وطــن دا وطــن دا مې د بــابــا وطــن

دا لـکـــه بـــدن زمـــوږ
دا دی روح او تن زموږ
دا ښکلی ګلشن زموږ
پاتې په ميراث راته دغه د يما وطن
دا وطـن دا وطـن دا مې د بابا وطن

دا د پت عزت خاوره
دا ده د جنت خاوره
دا د حقيقت خاوره
ساری چېرې نه لري دا د اريانا وطن
دا وطن دا وطن دا مې د بابا وطن

(c) ketabton.com: The Digital Library





# کاغذ باد

کاغذ باد مې پورته کړی دی هوا ته
پورته کومه یې په مینه زه فضا ته
ما په مینه د رنګه کاغذ جوړ کړی
ټول همزولي مې حیرانه دي ښکلا ته
وځم د ښتې ته په بام نه پورته کېږم
کاغذ باد کې زه پیغام لېږم اشنا ته
په سړک او په کوڅو کې لوبې نه کړم
د یارانو سره تلل ځمه بیدیا ته
په څرخه کې شیشې تار لرم ډېر ښه
کاغذ باد مې پورته کومه هرې خوا ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ترانو وطن

زما وطن د مېړنو وطن دی
دا د سرکشو پرګنو وطن دی

د خپلواکۍ لاره کې سر ورکوي
دا د باتورو ولسو وطن دی
نړۍ کې ساری د ښکلا نه لري
دا د رنګینو سردرو وطن دی
په جګو غرو کې مورچلونه لري
دا د لرغونو تاریخو وطن دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمـــــد[1] لـــــري امــــان[2] لـــــري پــــه غيـــږ کـــــې
دا د ميونـــــــــد د ملالـــــــــو[3] وطـــــــــن دی
يرغلګـــــر دلتـــــه بـــــرې نشــــې مونــــدی
دا د اتلــــــو ولســـــــو د حماســـــــو وطـــــــن دی
پـــــت بـــــه يـــــې تـــــل پـــــه خپلـــــو وينـــــو ســـــاتو
دا د اتلــــــو شـــــــهيدانو د جنـــــــډو وطـــــــن دی
ښکلـــــه بـــــه نـــــه شـــــو ســـــپېلني ورځينـــــې
دا د ســـــــانين د ترانـــــــــو وطـــــــــن دی

پــــــه قربـــــانۍ راتــــــه ســـــاتلی پلـــــــرو
زمـــــــوږ وطـــــــن د خزانـــــــو وطـــــــن دی

---

[1]: احمد شاه بابا
[2]: غازي امان الله خان
[3]: د موند ملالَه

(c) ketabton.com: The Digital Library





# غاښونه

پاک سوتره ساتم غاښونه
هره ورځ یې برسومه

حفاظت یې کوم ښه ډېر
مزه دار لرم کریمونه

ځکه ښکلي ښکلي ښکاري
زما خوله کې سپین غاښونه

(c) ketabton.com: The Digital Library





# پسرلي ته

پسرلی شو په هر خوا کې دي جشنونه
ټول ځوانان کوي مېلې او اتڼونه
شړ ډاګونه په ګلانو ښایسته ښکاري
څومره ښکلي ښکاري وچت غرونه
سردرو څنې د عطرو بوی راخېژي
څومره ښکلي ښکاري شنه باغونه
غونچې ښکاري د ګلونو بوټې څانګې
بوراګان کوي په مینه پروازونه
هوا ښکلې فضا ښکلې دنیا ښکلې
پسرلي ته حقیقت لیکي شعرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library





# افغاني درسونه

ښوونځي کې راټول شوي ماشومان دي
ته به وايې چې دا ستوري د اسمان دي

قلمونه، کتابونه، ورسره دي په لاس کې
ته به وايې چې تازه ګلان دي
پاک سوتره ګرځي په باغچو کې ډله ډله
ته به وايې چې ټول شوي بوراګان دي
علم پوهه زده کوي په مينه مينه
لاس په لاس د ښوونځي په لور روان دي
افغاني درسونه يې لوستي په زانګو کې
د وطن د پت ساتلو پتنګان دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ښه پوهه علم زده کړي دا به ويار وي
همدغه کوچنيان سبا ته مشران دي
پام لرنه يې ښوونې او روزنې ته پکار ده
چې ددې خاورې سبا ته وارثان دي

شفقت، مهرباني يې تل په کار ده
حقيقت د پاکې لارې لارويان دي

(c) ketabton.com: The Digital Library






# کرکټ

په کرکټ کې قهرمان یم
زه چالاک یم نوی ځوان یم

چې په کوم میچ کې لوبېږم
وایم ستوری د اسمان یم
ډېر په تېزه وهم منډه
ښه روښانه لرم تنده
ډېر قوي لرم لاسونه
په خپل مټ اخلم شپږیزه

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو څو ځله څلوریزه
ښه فیلډر یم په ډګر کې
لوبې کومه په هنر کې
زه لرم نوي بېټونه
لرم ښکلي وړکټونه
ښه لباس لرمه ښکلی
حقیقت یم منلی
د نړۍ په هر هېواد کې
پورته کوم خپل بیرغونه

جوړولی شم رنځونه
ما ګټلي ډېر کپونه

(c) ketabton.com: The Digital Library






# ګلان یو

مونږ د میوند د ملالې سکه بچیان یو
موږ د معارف د بڼ ګلان یو

سوله خوشي غواړو
ژوند کې هستي غواړو
کار او سیالي غواړو
په مینه مینه د رڼا په لار روان یو
موږ د معارف د بڼ ګلان یو

ننګ لرو پت لرو
زړه کې غیرت لرو
وطن جنت لرو
د خپلې خاورې د ساتنې فدایان یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## موږ د معارف د بڼ ګلان یو

جنګ کې ګلونه سوزي
کلي کورونه سوزي
شنه چمنونه سوزي
موږ د جنګونو او جګړو مخالفان یو
موږ د معارف د بڼ ګلان یو

نن ماشومان یو موږه
سبا لویان یو موږه
ټول افغانان یو موږه
په دېره مینه حقیقت په لار روان یو
موږ د معارف د بڼ ګلان یو

(c) ketabton.com: The Digital Library






# د ژوندون ترانه

مونږ افغانانن یو ملي ژوند ته پیوستون غواړو
قلم کتاب غواړو په سوله کې ژوندون غواړو

سوله ورورې غواړو
بشر دوستي غواړو
ژوند کې سیالي غواړو
تنکي ګلونه یو د جنګ ځني خلاصون غواړو
قلم کتاب غواړو په سوله کې ژوندون غواړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنګ کې ګلونه سوزي
شنه شنه باغونه سوزي
کلي کورونه سوزي
مورې د سولې او د امن په لار يون غواړو
قلم کتاب غواړو په سوله کې ژوندون غواړو

دا ټول قومونه يو کړئ
په مينه زړونه يو کړئ
واړه لاسونه يو کړئ
مورې کشران د مشرانو يو تړون غواړو
قلم کتاب غواړو په سوله کې ژوندون غواړو

زمونږ ارمان د سولې
زمونږ کاروان د سولې
غواړو جهان د سولې
ازاد ژوندون ته حقيقته سباوون غواړو
قلم کتاب غواړو په سوله کې ژوندون غواړو

(c) ketabton.com: The Digital Library






# د پوهې برکت

زه پیلوټ یمه د جاز
الوتل کوم لکه باز

هسکو غرونو په سرونو
په هر خوا کوم پرواز
د سیندو د پاسه ګرځم
یم د عصر دوران ساز
ځم ډهلي ته ځم دوبۍ ته
ډېر ارام لرم پرواز
راسره مسافرین وي
قبلوم یې زه هر ناز
کله ځم ایران او چین ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



يم همزولو کې پېشتاز
په خپل کار او دنده ويارم
په هر وخت يم زه ممتاز
علم پوهې برکت دی
يم خبر د ژوند په راز
چې قلم مې اشنا نه وای
اوس به نه وی سرفراز

حقيقته علم زده کړه
تل به ته يې يکه تاز

(c) ketabton.com: The Digital Library





# ترانه

## قلم او كتابونه لرو

موږه کوچنيان پاک ارمانونه لرو
لاس کې قلم او کتابونه لرو

***

د سولې امن پلويان يو موږه
ددغې خاورې وبښ بچيان يو موږه

د جنګ جګړو نه نفرتونه لرو
لاس کې قلم او کتابونه لرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

د اور لمبـــــــــــې دلتــــــــــه ګلو نــــــــــه ســــــــــېزي
دلتــــــــه ډاګو نــــــــه دلتــــــــه غرو نــــــــه ســــــــېزي

د ژو نــــــــــــد د پـــــــــاره پيغامو نــــــــــه لــــــــــرو
لاس کـــــــــــې قلــــــــم او کتابو نــــــــــه لــــــــــرو

***

غـــــوا ړو بشــــر تـــــه نېکمرغـــــي پـــــه ژونـــــد کـــــې
پـــــه هـــــره خـــــوا کـــــې خوشـــــالي پـــــه ژونـــــد کـــــې

د جنـــــګ پـــــه ضـــــد ډ يـــــر پيغامو نـــــه لـــــرو
لاس کـــــــــــې قلــــــــم او کتابو نــــــــــه لــــــــــرو

(c) ketabton.com: The Digital Library





# جنتونه

د مور غېږه ښوونځی دی
په کې ما لوستي د مينې سبقونه
په للو للو للو کې
مورې تا راکړل درسونه
په مغزو کې مې ثبت شوي
مورې ستا پاک ارمانونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



له خوږ نوم نه دې لوګی شم
تل په مینه مینه
ښکلوم ستا پاک لاسونه
په للو للو للو کې
تا ښودلي جهانونه
درنه ځار شم په
په څو واره
زما مورې
مورې ، مورې
د پښو په تل کې شته ستا
په رښتیا کې جنتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library





# د علم برکت

هر يو کار چې شي بينا په بسم الله
برکت په کې پيدا کړي لوی الله

دا د علم او د پوهې برکت دی
چې رڼا ده خوره شوې په دنيا

(c) ketabton.com: The Digital Library





# باور

زه په ځان باور لرم
لوړو غرونو ته ختلی شم

روغ رمټ زلمی یمه
هر خوا ګرځېدلی شم

عشق کې مې د خپل وطن
سر نه تېرېدلی شم

(c) ketabton.com: The Digital Library





# افسوس

ډېر افسوس په هغه چا
چې نشه باندې اخته دي

ورنه هېڅ شی نه جوړېږي
د هغه ماغزه ایره وي

(c) ketabton.com: The Digital Library





# جذبه

خامخا به زه پیلوټ شم
دا مې کلکه اراده ده

په درسو کې زیار وباسم
اراده زما پخه ده

حکمتونه زده کومه
دا مې هوډ دا مې جذبه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library





# واليبال

زه اتل د واليبال يم
تل په لوبه کې فعال يم

په ميدان کې چې درېږم
لکه غر هسې ښکارېږم

په هوا کې توپ ثارمه
کله شوټ چې زه وهمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوک مې نشي ګرځولی
بیا په ځمکه وي لوېدلی

توپ وهلو کې ماهر یم
هره لوبه کې ښه ځیر یم

زه کوم شوټ کې ټوپونه
کله اچوم چانسونه

له ریفري اخلم نمبرې
له خوښۍ وایم سندرې

(c) ketabton.com: The Digital Library





# د ماهیپر لاره

ډېره ښایسته د ماهیپر لاره
ګرانه وي په هر ځای کې د غره لاره

لار د وربښمنو ده تاریخ لري
داده د کابل او د خیبر لاره

(c) ketabton.com: The Digital Library





# پوهې وزرونه

چلوي چې په فضا کې الوتکه
په تخنیک یې پوهوي ځان بې له شکه

په وزرونو کې د پوهې الوتل شي
لټوی شي په هر خوا بحر او ځمکه

(c) ketabton.com: The Digital Library





# لوړ فکر

چې په پوهه ثوک سمبال وي
لوړ یې فکر لوړ یې خیال وي

بې له پوهې بری نه وي حقیقته
سرګردانه به په ژوند کې هر محال وي

(c) ketabton.com: The Digital Library





# لمر

لوړ غرور لرم افغان یم
زه اتل په ټول جهان یم

تاریخونه مې ښکاره دی
لکه لمر هسې روښان یم

(c) ketabton.com: The Digital Library





# شیرینې مورې

ای زما ښکلې مورې
زما منلې مورې
دا ستا د نوم نه لوګی
زما شیرینې مورې
لوګی لوګی درنه شم
زما غمجنې مورې
په ناز دې وروزلم
زما د مینې مورې
بله خوا نه ځم چېرې
ستا د لمنې مورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څر

ښکلې زما غوا ده
ښکلې يې هوسۍ ده
ورېم يې شنو وښو ته
لاره کې ګرځندۍ ده



# زما چم

دغه زما چم دی
شنه شنه يې باغونه دي

شنه يې شاليزاره ده
ښکلي يې کورونه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لاره

زه یمه هوښیاره
نه ګرځم وزګاره

زه طالب د پوهې یم
پاکه مې ده لاره

# کتابونه

زه ښکلی قلم لرم
لیکم سبقونه خپل

پاک ساتم سوتره ساتم
واړه کتابونه خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library





# مخالف یو د جنګونو

موږ د سولې پلویان یو
د جنګونو مخالف یو

❋

د بشر پیسو ستون غواړو
توپیرونو مخالف یو

❋

موږ د امن نړۍ غواړو
د بریدونو مخالف یو

❋

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ ژوندون د سولې غواړو
د ظلمونو مخالف یو

❋

د ټوپک او ماشینګنو
د بمونو مخالف یو

❋

موږ د امن لارویان یو
یرغلونو مخالف یو

❋

د ځانمرګو لرو کرکه
ماتمونو مخالف یو

❋

رڼاګانو کې ژوند غواړو
تورتمونو مخالف یو

(c) ketabton.com: The Digital Library






# لوپټه

زه د ملالۍ لور یم
سره ده لوپټه زما
ننګ او د غیرت ځنې
ډکه ده ناره زما
توره شجاعت لرم
لوړه ده جذبه زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



وېره زړه کې نه لرم
ټینګه اراده زما

ځان باندې باور لرم
لاس کې ده جنډه زما

هسکه به ساتم ژوند کې
داده ترانه زما

مینه کې ددې وطن
سر دی نذرانه زما

(c) ketabton.com: The Digital Library





# مکتبۍ

هغه مکتبۍ ده
ډېره ګلالۍ ده

لاس کې يې کتاب دی
ډېره ګلالۍ ده

وايي سبقونه خپل
درس کې په خوارۍ ده

ګرانه حقیقت ته ده
ښکلې ده سپوږمۍ ده

(c) ketabton.com: The Digital Library






# جنډه

پښتنه یمه په سر تل لوپټه لرمه
د دې وطن د محبت پاکه جذبه لرمه

د ملالۍ لور یم لنډۍ یې رانه نه هېرېږي
خپلو لاسو کې د خپلواک ژوندون جنډه لرمه

(c) ketabton.com: The Digital Library





# د پوهې ارزښت

استاذان زموږ منلي
کتابونه لرو ښکلي
موږ ارمان لرو د پوهې
ښوونځي ته یو راغلي
یو تازه تنکي ګلونه
موږ یو نوي غوړېدلي
په ارزښت باندې د پوهې
لوی واړه یو پوهېدلي

(c) ketabton.com: The Digital Library





# درسونه لولو

په مینه مینه کتابونه لولو
موږ زده کوونکي یو درسونه لولو
❋

چې ښوونځي ته ورشو
خپل خپل ټولګي ته ورشو
هالته څو رنګه مضمونونه لولو
موږ زده کوونکي یو درسونه لولو
❋

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوړ ارمانونه لرو
لوړ امېدونه لرو
خوارږه خوارږه خپل تاریخونه لرو
مونږ زده کوونکي یو درسونه لولو

*

زده کړه او کار کوو
پرې افتخار کوو
د نوي ژوند نوي رازونه لولو
موږ زده کوونکي یو درسونه لولو

(c) ketabton.com: The Digital Library





# قلم

چې اشنا شوم د قلم
د ګرېوان مې ورک شو نم

اينده مې شوه روښانه
شوم په ضد د تور تورتم
په طلب کې يم د پوهې
نور نو نه لرم څه غم
وزګار نه ګرځم هېڅکله
نه کوڅو کې نه په چم
زيار به باسم په درسو کې
وي کتاب را سره سم

که غافل شوم حقيقته
زه به يم هر چاته ګرم

(c) ketabton.com: The Digital Library





# ملي بیرغ

خپل بیرغ مې راته ګران دی
څومره ښکلی یې نښان دی

په وچتو غرو رپېږي
ښکلی شوی پرې اسمان دی
دا سمبول دی د یووالي
دا غیرت د هر افغان دی
تل دې لوړ وي په نړۍ کې
راته ګران لکه ایمان دی

تور، سور، شین لري رنګونه
لکه لمر هسې روښان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library





# افغانان یو

تنکي ګلونه یو د دې وطن بچیان یو
موږ افغانان یو ، موږ افغانان یو

*

دا د ننګونو خاوره
دا د ویاړونو خاوره
د هسکو غرونو خاوره
لوی او واړه یې پټنګان یو
موږ افغانان یو ، موږ افغانان یو

*

د وطن پت به ساتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه په عزت به ساتو
په لوړ همت به ساتو
د ځانه تېر یو د وطن نوم نه قربان یو
موږ افغانان یو موږ افغانان یو

❋

دا ستا په زړه کې
د اریانا په زړه کې
ټولې دنیا په زړه کې
ځلاند تاریخ لرو د لمر په شان روښان یو
موږ افغانان یو موږ افغانان یو

❋

دا وطن مور زموږه
دا وطن کور زموږه
دا وطن ګور زموږه
د حقیقت سره په لاره کې روان یو
موږ افغانان یو ، موږ افغانان یو

(c) ketabton.com: The Digital Library





# د کابل شپه

د ورځ نـــه شـــپه ښـــومره ښايســـته ښــــکارېږي
پـــــه څراغونـــــو رنګينـــــه ښـــــکارېږي

لارو کوڅـــو کـــې يـــې رڼـــا رڼـــا ده
زمـــا کابـــل غونچـــه غونچـــه ښــــکارېږي

جـــونې زلميـــان يـــې پـــه چکـــر راوتـــي
پـــه هـــره خـــوا جوپـــه جوپـــه ښـــکارېږي

ورتـــه حيرانـــه پـــه حيـــرت کـــې بـــه شـــې
ښـــکلې يـــې هـــره منطقـــه ښـــکارېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کې جوړ شوي دي عصري تعميرات
باغونه يې ښکلي او سوتره ښکارېږي

ډېر ولسونه په کې ژوند تېروي
هره ساحه يې عجيبه ښکارېږي

ډېر جماعتونه په سينه کې لري
له هره خوا يې مناره ښکارېږي

چې هره خوا يې ګورې زړه کشوي
ټول ښار تک شين تپه تپه ښکارېږي

ساری يې نه شته که جهان وګورې
فرش په ګلانو يې سينه ښکارېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library





# د ښوونکي مقام ته

زموږ ژوند ته رهنما يې
زموږ لارې ته رڼا يې

ستا مقام ته سلامونه
ته زموږه ښه اشنا يې
په تا ويارو موږ په مينه
راته ګران ته له هر چا يې
ډېر زحمت په موږه ګالې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهربان او باوفا يې
احترام به تل ساتو ستا
ځلاند ستورى د سبا يې
معنوي پلار يې زموږه
زموږ يار زموږ بابا يې

برېښنايي تورتمو ته
ته ژوندون لره رڼا يې

(c) ketabton.com: The Digital Library





# سپوږمۍ

زه ښکلې جینۍ یم
لور د ملالۍ یم

پت لرم غیرت لرم
زه د ګل غوټۍ یم

زه تورو تیارو لره
ومنه- سپوږمۍ یم

تل ځمه ښوونځي ته مې
درس کې په خوارۍ یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



علم پسې ګرځمه
زه ښکلې مرغۍ یم

ننګ لرم ارمان لرم
خیر که نن کمکۍ یم

ځان رسوم منزل ته مې
لاره کې ګړندۍ یم

منځ کې د همزولو مې
زه ښه په سیالۍ یم

زه د ملالۍ د خولې
ښه خوږه لنډۍ یم

(c) ketabton.com: The Digital Library





# څراغونه یو

د نوي ژوند نوي ګلونه یو
تورو تیارو ته څراغونه یو

*

مورې ترانې وایو
خوږې خوږې وایو
مورِ د سبا ورځ امېدونه یو
تورو تیارو ته څراغونه یو

*

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو پلویان د سولې
یو لارویان د سولې
د نوي وخت نوي نسلونه یو
تورو تیارو ته څراغونه یو

*

د دې وطن بچیان یو
د دې ګلشن بچیبان یو
د علم پوهې قلمونه یو
تورو تیارو ته څراغونه یو

(c) ketabton.com: The Digital Library





# ګام په ګام

کوښښ کوم په درسو کې
ګرځم زه ښکلو باغچو کې

ټول همزولي یو ټولګي کې
واړه کېنو په چوکو کې
په دقت درسونه وایو
هم یې لیکو کتابچو کې
ښوونځي ته ځو په مینه
ګام په ګام په ترانو کې
تورتمونه رڼا کېږي
د ډیو په بلېدو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library





# شور

ددې خاورې ګلونه یو
واړه سره ورونه یو
یو وطن یو ننګ لرو
مورږ نوي نسلونه یو
تورو تورتمونو ته
موږه څراغونه یو
ساتو په غیرت وطن
ډ بر په لوړ همت وطن
یو تاریخ یو کور لرو
موږ په زړه کې شور لرو

(c) ketabton.com: The Digital Library





# زما زړه

ای وطنه زما زړه زما جانان يې
زما کور يې زما خاوره زما ځان يې

ستا د نوم نه زه لوګی او سپېلنی شم
زما پت يې زما ننګ زما ايمان يې

تاريخونه مې ستا لوستي په زانګو کې
ته زما د ارمانونو لوی جهان يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما خورلي په خاپوړو کې ستا خاورې
ته زما د زړه داغونو ته درمان یې

ګام ګام خاوره دې تاریخ لري روښانه
ته زما د ترانو شین ګلستان یې

په خپل متهو به دې زه ښکلی سمسور کړم
ته مې ژوند د ارمانونو ته بوستان یې

ستا په مینه حقیقت ترانې لیکي
عالمونو ته د لمر په شان روښان یې

(c) ketabton.com: The Digital Library





# د جنګ اورونه

دا ښارونه دغه کلي دا کورونه
دغه لارې دا کوخې دا شنه باغونه
چا سېزلي په اورونو په باروتو؟
دغه ښکلي ښوونځي او جوماتونه
په رنګينو سردرو کې لمنې ښکاري
دلته نه کوي کوترې پروازونه
دا د جنګ اورونه چا دلته بل کړي؟
سوزوي زمونږ تنکي تنکي ګلونه
زه د سولې او د امن په ارمان يم
د جګړو په ضد مدام لیکم شعرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library





خپل لمسۍ ډیوې سانین ته ډالۍ

## ډیوه

د سانین د کور ډیوه یم
یوه کړیکه یم ناره یم

ویده خلک پاڅوم زه
زه د سولې ترانه یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جګړو یمه بېزاره
د خوښۍ د ژوند نغمه یم

د وطن په درد پوهېږم
ښه احساس لرم جذبه یم

هر غلیم ته په میدان کې
تېره توره یم حمله یم

ابادي د وطن غواړم
زه د سولې فرښته یم

د ځانمرګو مقابل کې
د اورونو یوه لمبه یم

زه یم ګرانه حقیقت ته
زه د شاتو نه خوږه یم

(c) ketabton.com: The Digital Library





# د شملو وطن

زموږ وطن د نړۍ مخ کې د جرګو وطن دی
دا د شملو وطن دی دا د شملو وطن دی

❋

دده هوا ښکلې ده
دده فضا ښکلې ده
دا تاریخو کې د سرکشو لسو وطن دی
دا د شملو وطن دی دا د شملو وطن دی

❋

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د وياړونو خاوره
د هسکو غرونو خاوره
دا د خپلواکه ولسونو ترانو وطن دی
دا د شملو وطن دی دا د شملو وطن دی

❋

د حماسو زانګو ده
د کارنامو زانګو ده
نه لري ساری د لرغونو زمانو وطن دی
دا د شملو وطن دی دا د شملو وطن دی

❋

د تاريخونو کور دی
دا د قومونو کور دی
په حقيقت کې دا زموږ د خزانو وطن دی
دا د شملو وطن دی دا د شملو وطن دی

❋

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پتمن

زړه کــــې چــــې جذبـــه د وطـــن نـــه لـــري
هغــــــه انســــــان هغــــــه افغــــــان نـــــه دی

چــــې لــــوګی نــــه شــــي د وطــــن پــــه مینــــه
هغــــــه پـــــــتمن او بـــــا ایمـــــان نـــــه دی
۱۳۹۲

# ایمان

ســـر چــــې د وطـــن پـــه نـــوم قربـــان نـــه کـــړي
ورتـــــه افغـــــان او بـــــا ایمـــــان مـــــه وایـــــه

چــــې د وطـــن خـــاورو تـــه زرو پـــه شـــان ونـــه ګـــوري
ورتـــه بچـــی د دغـــه پـــاک افغانســـتان مـــه وایـــه
۱۳۹۲

(c) ketabton.com: The Digital Library






# قهرمان


چې پــه مینــه د وطــن کــې خــوک قربــان شــي
پــه تــاریخ کــې ځلانــد ســتوری د اســمان شــي

ولســـونه یــې تــل ســتایي پــه ژونــدون کــې
د قاســم[۱] شــهید پــه شــان چــې قهرمــان شــي

(۱) قاسم شهید د ننګ شهید ، سرحدي پولیس

(c) ketabton.com: The Digital Library





ډالۍ استاد عبدالصمد (متین) ته

# د معلم مقام ته

او چــــت دی هــــر چانــــه مقـــام د معلـــــم
حــــق دی پـــه مـــوږه تـــل ســلام د معلـــم

د ویــــارو-ورډنـــده پـــه غـــاړه لـــــري
مـــوږه لـــرو ډېــــر احتــــرام د معلــــم
د رڼـــا لاره یـــې ښــــودلې مــــوږ تــــه
اخلـــو د پـــوهې تـــل الهــام د معلــــم
پـــه لاربنـــوونه یـــې رڼـــا ده دنیــــا
مـــوږه منلــــي تـــل احکـــام د معلــــم

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تباشیر په دره لیکي سبق
یو منندویه عام او تام د معلم
تورو تیارو ته یې ډیوې بلې کړې
وګورئ کار، سهار، ماښام د معلم
پور ته فضا ته یې کاشفین ولېږل
خوږ دی له شاتو یې پیغام د معلم
اته درسونه راکوي په پوهه
لګېږي خوږ په موږ کلام د معلم
لټوي ستونزو د بشر ته لارې
کله چې ستونزو ته شي پام د معلم
جاز، ټلویزیون او انټرنېټ وګوره
ونه لید ما کله ارام د معلم
زه یې ستایلی په قلم نه شمه
تاریخ کې وګورئ مقام د معلم
ډېر بختور به وي په ټول ژوندون کې
که چا ترلاسه کړو انعام د معلم

زه حقیقت یې درناوی تل کوم
لوړ دی د هر چانه مقام د معلم

(c) ketabton.com: The Digital Library





# کور د اتلانو

دا وطن دا وطن کور د افغانانو دی
دا وطن دا وطن کور د فدایانو دی

❊

دا په قربانۍ ساتو
دا به په سیالۍ ساتو
دا به په خوښۍ ساتو
دا د اسیا زړه کې کور د پتنګانو دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا وطن، دا وطن کور د فدايانو دی

❋

ښکلي او چت غرونه يې
دښتې او ډاګونه يې
ويښ ويښ ولسونه يې
نه لري مثال چرته کور د جانبازانو دی
دا وطن دا وطن کور د فدايانو دی

❋

دا د کارنامو خاوره
دا د حماسو خاوره
دا د تاريخو خاوره
دا په عالمونو کې کور د اتلانو دی
دا وطن دا وطن کور د فدايانو دی

❋

دا د ننګ شملې لري
دا خوږې کيسې لري
دا جګې جنډې لري
سرقربانوو ورنه کور د سربازانو دی
دا وطن دا وطن کور د فدايانو دی

❋

(c) ketabton.com: The Digital Library






# د شملو او لوپټو خاوره

ډېره ښايسته ده د درنو خاوره ده
د شملو او لوپټو خاوره ده

*

عزت حيا ده زموږ
دا لکه ساه ده زموږ
دا په نړۍ کې د زمرو خاوره ده
د لوپټو او د شملو خاوره ده

*

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده سره مینه لرو
څو تن کې وینه لرو
دا د ننګونو او ویاړو خاوره ده
د لوپټو او د شملو خاوره ده

❋

ټول یو لښکر یو موږه
واړه عسکر یو موږه
دا د ځلانده تاریخو خاوره ده
د شملو او لوپټو خاوره ده

❋

مرجان لعلونه لري
دا ښکلي غرونه لري
دا په نړۍ کې د جرګو خاوره ده
دا د شملو او لوپټو خاوره ده

(c) ketabton.com: The Digital Library





# پښتو ژبه

د بیګنــــــو ځنـــــې خـــــوږه ژبـــــه ده
دا ډېـــــره نرمـــــه او پســـــته ژبـــــه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د لرغونـــو زمـــانو څنـــې تـــر ننـــه پـــورې
ډ پــــــر لرغونتيــــا لــــــري زړه ژبــــــه ده
ډ پـــر ولســـونه پـــه همـــدې ژبـــه خبـــرې کـــوي
د پرګنــــــو ډ پــــــره درنــــــه ژبــــــه ده
اوږد تـــــاريخ لـــــــري ويــــــونکي د ده
دا پــــــه جهــــان خـــــوره وره ژبــــــه ده
هـــر څـــوک يـــې ويلـــی شـــي لوسـتلی يـــې شـــي
تـــورو تيــــارو لـــــره ډيـــوه ژبـــــه ده
خوشـــحال، رحمـــن پـــه کـــې اثـــار ليکلـــي
د بېــــټنيکـــــه د زړه تــــوده ژبـــــه ده
اغيــــــار ويلــــــې د دوزخ ژبـــــه ده
دا د لــــــوی رب څنــــې تحفــــه ژبـــــه ده
دا پرګنــــــې لـــــــري قومونــــــه لـــــــري
نـــړۍ کـــې ټولـــو تـــه ښـــکاره ژبـــه ده
چـــې پښـــتونواله او پښـــتو نـــه منـــي
دا ســـې کســـانو تـــه ترخـــه ژبـــه ده
د چـــا نـــه کمـــه پـــه ســـيالو کـــې نـــه ده
دا منـــــل شــــوې او کـــــره ژبـــــه ده
ډ پـــر ډ پـــر روښـــانه تاريخونـــه لـــري
دا ټـــول بشـــر تـــه اينـــه ژبـــه ده
خــــوږې ســــندرې او خبــــرې لـــري
دا مکملــــــه او پـــــوره ژبــــــه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېـــر مراحـــل يـــې پـــه بـــري تېـــر کـــړي
دا د پېړيـــــــو ازمـــــــوده ژبـــــــه ده
دا د نـــړۍ د شـــرق او غـــرب خلکـــو تـــه
د پښـــــتنو يـــــوه ســـــوچه ژبـــــه ده
پـــه کـــې څـــه ســـتونزې د ويلـــو او ليکلـــو نـــه شـــته
پـــه هســـکو غرونـــو کـــې پرتـــه ژبـــه ده
پـــه ګودرونـــو کـــې يـــې پېغلـــې وايـــي
د سرلښـــــکرو ترانـــــه ژبـــــه ده

ســـاری يـــې نشـــته حقيقـــت خبـــره
ټولـــه دنيـــا بانـــدې خـــوره ژبـــه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library





# ارمان وطنه

لــه تانــه زار لــه تــا قربــان شــم زمــوږ ګــران وطنــه
تــا بــه پــه مینــه مینــه کــړو مــوږه ودان وطنــه

*

تـــــه د لرغونــــــو زمــــــانو زانګــــــو یــــــې
تـــــه د خپلواکــــو پرګنــــو زانګــــو یــــې
تـــــه د ننګونــــو افســــانو زانګــــو یــــې
درنــه لــوګی لــوګی لــوګی شــم زمــوږ ځــان وطنــه
تابــه پــه مینــه مینــه کــړو مــوږه ودان وطنــه

*

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته هسکو غرونو کې لعلونه لرې
په سردرو کې ځنګلونه لرې
نن په سینه کې پرهرونه لرې
پېژني تا ټول عالمونه په جهان وطنه
تا به په مینه موره کړو ودان وطنه

*

دا ستا په غېږه کې جنګونه تېر شو
د رنګارنګه دښمنانو یرغلونه تېر شو
ستا په بچیانو افتونه تېر شو
د تن په وینو به دې ساتو د افغان وطنه
تا به په مینه موره کړو ودان وطنه

*

ته د پردیو غلامانو وران کړې
وطن فروشو ورانکارانو وران کړې
په یرغلونو ګودالیانو وران کړې
ستا ابادی لرو په زړونو کې ارمان وطنه
تا به په مینه موره کړو ودان وطنه

۱۵/۴/۱۳۷۲ کونړ

(c) ketabton.com: The Digital Library





# سرحدي ترانه

موږه پټنګان یو ددې خاورې سرحدونه ساتو
ملي ویاړونه ساتو ملي ویاړونه ساتو

*

دا خوږ وطن دی زموږ
د ژوند ګلشن دی زموږ
د زړه ختن دی زموږ
په هسکو غرونو کې یې کانې او لعلونه ساتو
ملي ویاړونه ساتو ملي ویاړونه ساتو

*

د اتلانو کور دی
د جانبازانو کور دی
د افغانانو کور دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سر په بيه به مورچو کې بيرغونه ساتو
ملي ویاړونه ساتو ملي وياړونه ساتو
❋
دا د جرګو وطن دی
د تاريخو وطن دی
دا د شملو وطن دی
د تن په وينو يې ځلانده تاريخونه ساتو
ملي ویاړونه ساتو ملي وياړونه ساتو
❋
غبرګ کې زر لري دا
الماس لاجورد لري دا
ملي لښکر لري دا
ډک په ياقوتو زمرودو او چت غرونه ساتو
ملي وياونه ساتو ملي وياړونه ساتو
❋
دا د غيرت خاوره ده
دا د جنت خاوره ده
د حقيقت خاوره ده
په سردرو کې يې په مينه مورچلونه ساتو
ملي ویاړونه ساتو ملي وياړونه ساتو
۱۰/۸/۱۳۹۰

(c) ketabton.com: The Digital Library





# د مور مقام ته

ستا د سترګو په کتلو کې ثواب دی
يو سپېڅلی يو عجب شان ته کتاب دی

په کتو کتو کې ما ځان ته راکاږي
بس د مينې محبت روان سيلاب دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ســـتا د پښـــو لانـــدې جنـــت دی ګرانـــې مـــورې
ځکـــه مـــخ دې نـــوراني لکـــه افتـــاب دی
تـــا راکـــړي خپلـــه غېـــږ کـــې ســـبقونه
زمـــا هـــر ســـوال تـــه راکـــړی تـــا جـــواب دی
کـــه تـــه نـــه وای زه بـــه نـــه وای زمـــا مـــورې
ســـتا د ســـترګو پـــه کتلـــو کـــې ثـــواب دی

حقيقـــت تـــه خـــومره ګرانـــه يـــې مورجـــانې
د کعبـــې پـــه شـــانته ســـتا د تـــن حجـــاب دی

(c) ketabton.com: The Digital Library





د ماشومانو د نړیوالې ورځې په ویاړ...
۱۳۹۸/۱۰/۱۵

# زموږ تنکي ماشومان

نور د نړۍ ماشومان په مينه مينه سبقونه وايي
دلته زموږ ماشومان په وينو رنګ ښکاري بابا غواړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور د نړۍ ماشومان په سوله امن کې ژوند ون تېروي
دلته زموږ ماشومان په خېټه وږي دي غذا غواړي؟
نور د نړۍ ماشومان باروت، تېزاب او زهر نه پېژني
دلته زموږ ماشومان جګړو کې سوي دي شفا غواړي؟
نور د نړۍ ماشومان د علم پوهې په زېور سمبال شو
دلته زموږ ماشومان د نېکمرغۍ ژوند ته رڼا غواړي؟
نور د نړۍ ماشومان ښکلو ښارونو او قصرو کې اوسي
زموږ لغړ او ببر سر يتيمان بېکوره ګرځي سرپناه غواړي؟
نور د نړۍ ماشومان په مينه مينه روزل کېږي د سبا لپاره
زموږ تنکي ښکلي ښايسته ماشومان ژوند ته سبا غواړي؟
نور د نړۍ ماشومان په شفقت کې له لويانو خپلې زده کړې کوي
دلته زموږ ماشومان د جنګ جګړو ځنې خلاصون نور په دنيا غواړي؟
نور د نړۍ ماشومان په سوله امن کې درسونه سبقونه وايي
دلته زموږ ماشومان وچه ډوډۍ په سوال بيا بيا غواړي؟

نور د نړۍ ماشومان د علم پوهې په ګاڼه په شفقت سمبال شي
دلته زموږ ماشومان په درد اخته درد ته دوا غواړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library





# زما پيشو

پيشو مې ده هوښياره
ځي ما سره په لاره
ښايسته لرې برېتونه
لکۍ يې مزه داره
اندام باندې قوي ده
څرمن يې ده پټاره
موږک په غار کې اوسي
وتې نه شي له ډاره
حيران يم ورته پاتې
که شپه وي او که ورځې وي
په کور کې وي بيداره

(c) ketabton.com: The Digital Library





# اوښان

هغه دي اوښان دي
قطار قطار روان دي

جګ جګ يې قدمونه دي
غټ غټ يې ګامونه دي
په شا لري بارونه
قوي يې اندامونه

د غرونو خواته لاره
ځونډی لري په غاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library





# تاریخي کونړ

زما کونړه خوږه پوږه ستا له غرو لوګی شم
ستا د بچیانو د ځلانده تاریخو لوګی شم

ته د زیتونو د رنګینو سردرو خاوره یې
ستا د راسا[1] د لرغونتوب او د ثپو لوګی شم
څو مره روښانه تاریخونه ستا سینه کې ښکاري
ستا د پراخو پرګنو له حماسو لوګی شم
تا زغلولی هر ازمون کې د نړۍ یرغلګر

[1] : راسا: د کونړ د سیند تاریخي نوم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ســـتا د خپلواکـــو ولســـونو د مورچـــو لـــوګی شـــم
تـــا د روســـانو[۲] مـــلا کـــړه ماتـــه د جهـــاد ســـنګر کـــې
ســـتا د بـــاتورو ولســـونو د شـــملو لـــوګی شـــم
دمـــې تـــه تـــا یـــوه لحظـــه لـــوی ســـکندر[۳] پرېښـــود
ســـتا د قومونـــو د جـــذباتو او بریـــدو لـــوګی شـــم
جنـــګ د چتـــرال[۴] کـــې انګرېزانـــو تـــه تـــا ماتـــه ورکـــړه
ســـتا د بچیـــانو د یرغـــل او تربلـــو لـــوګی شـــم
پـــه ســـر ښـــندنه د غلـــیم ګوګـــل نـــه زړه وباســـې
ستـا پـه دې هسـکو غـرو کـې مېشـتو پرګنـو لـوګی شـم

د زمـــانو پـــه هـــر ازمـــون کـــې بـــری تـــا ګټلـــی
کـــونړه ســـتا نـــه شـــم قربـــان ســـتا د قومـــو لـــوګی شـــم
۱۳۸۸

[۲] : روسان: د لمرې خل لپاره ناکام او وتښتېدل.
[۳] : لوی سکندر په کونړ کې د مقابلې وس نه درلود هند ته په تېښته بریالی شو.
[۴] : د چترال جنګ د افغانستان د ازادۍ څلورمې جبهې ته اشاره ده چې انګرېزانو ته ماته ورکړل شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library





# د وینو دارې

کلی هغه
جومات هغه
خو هغه خلک چې
د غټې چنار
د سیوري یخ ته ټولېدل نه ښکاري
په کوم طرف تللي دي؟
کلی هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو دا کوڅې راته بدلې ښکاري
د کلي هره خوا مې ولیدله
کورونه ټول کنډر کنډر ښکاري ! ! !
په کې ویالې د اوبو وچې ښکاري
او د کورونو دروازې ماتې دي ! ! !
په دېوالونو کې
په لارو کې
د سرو سرو
وینو دارې ښکاري ! ! !
زما د کلي زړه چاودلی ښکاري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library





# لوپټې

د پښتنو پېغلو په سر کې لوپټې خوند کوي
په هسکو غرو د شهيدانو سرې جګړې خوند کوي

چې د وطن په مينه سر بايلل له خدايه غواړي
داسې خوانانو په سرونو کې شملې خوند کوي
چاچې سرونه خپل شيندلي د وطن په مينه
هغو اتلو مزارونو کې ډيوې خوند کوي
ښکلي وطن کې مې جګړې دي او ورونه ښکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما سينه کې د اورونو غرغنډې خوند کوي
د زړه حالونه مې هيچا ته زه ويلی نه شم
پټ پټ سوزېږمه په شونډو مې قطرې خوند کوي
په ملاليو پېغلو ويارم چې هر چم کې اوسي
پښتنو پېغلو سره تل د ننګ جذبې خوند کوي

د پاکې مينې نه توبه کول مې زړه نه مني
توبې خو يوازې په طواف کې د مکې خوند کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library





# زړه راکاږي

دا د ختو قلاګانې
ځو مره ښکلي ښکلي ښکاري

د يو بل سره نښتی
ځو مره ښکلې لري لارې
دا مې چم دی دا مې کور دی
سر درې لري سرشارې
زړه راکاږي له هر چا نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګړنګونه دغه شاړې
د سانين قلاته ګوره
ماشومان يې خواته ښکاري

سپېلنی که ورنه نه شوم
په قبره مې تو کړئ لاړې

(c) ketabton.com: The Digital Library





خپل کشر زوی شهید همت الله سانین ته چې په ځوانه ځوانۍ کې یې له دې فاني نړۍ څخه سترګې پټې کړې او په زړه کې یې راته ناسور پرهر پرېښود.

# ګلاب

زما ښایسته ښایسته جانان بچیه
رانه جدا شوې په ارمان بچیه

ښایسته ځواني دې پاني پاڼې شوله
تا پسې ډېر یم پرېشان بچیه
په خیال کې تل ستا تصویرونه ګورم

(c) ketabton.com: The Digital Library



په زړه ټپي شوم بې درمان بچیه
ستا ښایسته صورت مې نه هېرېږي
تا لټوي په وسوسو زما چشمان بچیه
نه شوم زه خاورې نه لوګی درپسې
سوزي په اور زما ګریوان بچیه
افسوس افسوس ستا د ځوانۍ نه لوګی
زما په هیلو شو خزان بچیه
تاته جنت ثه جنتونه غواړم
راکړی تا و امتحان بچیه
ځوانه ځوانۍ کې رانه چرته لاړې؟
زه دې کړم پاتې په میدان بچیه
د کور په هر خوا یادګارونه ستا دي
زما ګلاب او قدردان بچیه
شل پسرلي د ژوند لیدلي و تا
وې ښکلی ګل مې د بوستان بچیه
مور دې په یاد باندې ویرونه کوي
ورونه دوستان ستا په خفګان بچیه
چې مخامخ شو ستا همزولو سره
سره شي په اوښکو مې دامان بچیه
ډېر مینه ناک او مهربان زلمی وې
خفه دې تا پسې خپلوان بچیه
مینه به ستا مورې په چا ماته کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نشته ښایسته ګل ستا په شان بچیه
مینه به ستا موره په چا ماته کړو
نشته ښایسته ګل ستا په شان بچیه
که نړۍ ټوله تا پسې وګورم
که زه شم پورته تر اسمان بچیه
د قبر سرته دې ودرېږمه هر وخت
پیدا به نه شي په جهان بچیه

نه راځې بېرته لاړې لاړې رانه
زما د مینې نوی ځوان بچیه

(c) ketabton.com: The Digital Library





# دا مې کلی دا مې کور

دا کنډر کنډر چې ښکاري دا مې کلی دا مې کور دی
يتيمان چې په کې ژاړي دا مې کلی دا مې کور دی

ددې وران کلي کوڅو کې ډاډه نه شم ګرځېدلی
په دوربين چې غليم څاري دا مې کلی دا مې کور دی
هغه لوړ چناران نشته په جومات او په ګودر کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ګلان شو په کې خاورې دا مې کلی دا مې کور دی
ځنګلونه رېبل کېږي په دې هسکو دنګو غرو کې
رنګ په وینو چې دي لارې دا مې کلی دا مې کور دی

چې روا بولي ظلمونه ظالمان پدغه خاوره
چې دود شوي دا سې چارې دا مې کلی دا مې کور دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بدن

د جګړو کرکه لرو
چې مو وطن سېزي

د اور لمبې نه غواړو
چې شين چمن سېزي

تور تور لوګي نه غواړو
راته ګلشن سېزي

د جنګ په ضد ولاړ يو
چې مو مسکن سېزي

په څه ګناه دښمنان
زموږ بدن سېزي

شي دې ړانده په سترګو
چې مو ختن سېزي

(c) ketabton.com: The Digital Library





# ښځه

ښځه مينه ښځه مور ښځه ابۍ ده
ښځه طرور ده ښځه خور ښځه نيابۍ ده

بې له ښځې ژوندون نشته نشته نشته
ښځه ژوند او اميدونو ته غوټۍ ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځه ډېره مهربانه او زړه سوانده وي په ژوند کې
درناوی يې ضروري دی پښتنه که عربۍ ده
ازمويونه يې په ژوند کې ډېر ليدلي
ښځه ټول ژوند کې غوښتونکې د سيالۍ ده
ښځه ژوند کې يوه رڼا ده په ژوندون کې
ښځه مور ده ښځه مينه ده سپوږمۍ ده
ښځه شمعه ده ډيوه ده د ژوند لار کې
ښځه هر خوا قهرمانه د نړۍ ده
ښځه خدای (ج) جنت کې ورکړله د ادم (ع) ته
ښځه نښه په ژوندون کې د خوښۍ ده
چې هر کار انجاموي نر، ښځه هم انجاموی شي
ښځه نښه په ژوندون د نېکمرغۍ ده
خپله غېږ کې يې روزلي ډېر پوهان په زمانو کې
ښځه وړ د درناوي ده زرغونه که ملالۍ ده
مور بچي ټول د (حوا) يو حقيقته
ښځه ورکړه د الله ده ګلالۍ ده

په دښمن د انسانيت باندې تاريخ کې
ښځه اور، ښځه لمبه ښځه سپرغۍ ده

(c) ketabton.com: The Digital Library





# بشر دوست

زه تنکی هلک یم
وسپنی نه کلک یم
ویاړم د افغان په نوم
ویښ یمه زیرک یم
مخالف زه په ژوندون کې
د بمونو او توپک یم
بشر دوست یم حقیقته
د ګلونو نه نازک یم
په دفاع د خپل وطن کې
تل بیداره برچه پک یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



يادونه: د يو تن لايق ښوونکي د شهادت په وير کې، په دې ګناه چې ښوونځي کې يې د ښوونکي پـه توګـه دنده ترسره کولـه، د هغـه د کوچني زوی د زړه اواز چې يوه حقيقي ترخه پېښه وه.

# زما بابا

زما بابا په ډزو مړ شو ! ! !
ما مې په سترګو وليد
څو نقاب پوښو وسله والو ځېورو
په ماشيندارو وويشت
بابا مې ماسره په لاره
ښوونځي ته تللو
...
بابا مې يو ناڅاپه
څو وسله والو وويشت
په دې ګناه چې هلکانو او نجونو ته
درس مه ورکوه
په ځمکه وغورځېده ! !
په ځمکه يې خپله سينه کېښودله
مخ يې قبلې طرف ته واړولو
په مينه مينه يې څو ځل کليمه وويله

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شهادت ګوته يې خپله ځانته پورته کړله
ما په حيرت حيرت کتلې ورته
سترګو يې دواړو زما سترګو ته کتل په مينه
پاکې جامې مې د بابا په تن وې
جامې يې وينو باندې سرې واوښتې
وينو يې دارې وهل
خو په دې پوه نه شوم زه
زما بابا په څه ګناه قتل شو
ما يې د وينو تماشې کولې
سترګې مې پورته کړلې
چې د قاتلو نه پوښتنه وکړم
هغه تورمخي نقاب پوشه وسله وال قاتلان
په هغه ځای کې نه و

۱۴/۴/۱۳۹۱ کونړ

(c) ketabton.com: The Digital Library





# جنتي خاوره

دا زموږ خاوره زموږ ژوند ته جنتي خاوره ده
په سر ښندنو ګټل شوې قيمتي خاوره ده

❋

دا ښکلي غرونه لري
ويښ ولسونه لري
دا د پلرونو موږ ته پاتې ميراثي خاوره ده
دا زموږ خاوره زموږ ژوند ته قيمتي خاوره ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



❋

خوږې قيصې لري دا
خوږې مېوې لري دا
په ده به وياړو دا د مينې تاريخي خاوره ده
دا زموږ خاوره زموږ ژوند ته قيمتي خاوره ده

❋

دا د شملو هېواد دی
د ملالو هېواد دی
په درنه غېږه کې يې اوسو افغاني خاوره ده
دا زموږ خاوره زموږ ژوند ته قيمتي خاوره ده

(c) ketabton.com: The Digital Library





# ستوری

لکـــه پـــه ســـتورو چـــې اســـمان ښـــه ښـــکاري
پـــــه ماشـــــومانو دا جهـــــان ښـــــه ښـــــکاري

منـــــو چـــــې شـــــته دی خزانـــــې قیمتـــــې
پـــه غرونـــو دښـــتو کـــې ګـــلان ښـــه ښـــکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library





# شنه دنيا

پــــــه لمــــــــر رڼـــــا ده دا دنيـــــــا
پــــــه لمــــــر تـــــوده ده دا دنيــــــا

دا لمـــــــر دی چـــــې نـــــړۍ کــــې رنګينـــــي ده
د لمـــــــر پــــــه وړانګـــــو شـــــنه ده دا دنيـــــا

(c) ketabton.com: The Digital Library






# نژاد

په نژاد کې اریایان یو
شکر موږ مسلمانان یو

زموږ کور افغانستان دی
موږه واړه افغانان یو

(c) ketabton.com: The Digital Library





# بايسيکل

زه سيکل لرم ښايسته
لري ښکلې کنجوغه
زه هر وخت يې چلومه
ښه په مينه يې ساتمه
اول څارم د تلو لاره
روانېږم په قلاره
حقيقت ماته اخيستی
څم د کور څنې تر ښاره

(c) ketabton.com: The Digital Library





ډالۍ کوچني ومان ته

# ايمان

ته زما د زړه جانان يې
لکه ستورى د اسمان يې
ته زما زړه ته نږدې يې
ته زما د زړه ارمان يې
په تا ويارمه بچيه
ته مې لعل د بدخشان يې
ستا د سترګو زه لوګى شم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ته هر څه ځنې ګران يې
له تا هيلې کړمه دېرې
ته زما د زړه درمان يې
هوښيار او چمتو ګرځه
ته بچی د لوی افغان يې
مينه تا سره کوم زه
ته مې وينه ته مې ځان يې
حقيقت شعرونه زده کړه
ته مې ښه د ايمان يې
۱۳۹۱

(c) ketabton.com: The Digital Library





# يو غنم

(يـــو غـــنم چـــې کرونـــده کـــې قربـــاني شـــي)
بيـــــا پيـــــدا شـــــي د غنمـــــو انبارونـــــه

افـــــرين شـــــه د بزګـــــرو پـــــه زيـــــارونو
ټولـــــوي چـــــې د غلـــــو دانـــــو فصـــــلونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نومونه

چې د نړۍ نقشه کې
د خپل وطن نوم مې
په کوم کتاب یا مجله یا په اخبار کې ګورم
دا دواړه سترګې
او دا زړه مې د وطن نوم کش کړي
زړه مې د مینې نه ټوپونه وهي
سترګې مې نه شم اړولی بل خوا
څومره خواږه زما په زړه لګېږي
افغانستان او د افغان نومونه
ورنه لوګی شم
دا نومونه په زړه ښه لګي

(c) ketabton.com: The Digital Library





# جوار

د جوارو ښکلي بوټي وي بمبل لري
وړی پټ قبا کې وي بمبل لري

بوټي يې پټې کې څومره ښه ښکاري
ټول پټې د جوارو شين بخمل ښکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شملې او لوپټې

دا وطن شملې او لوپټې لري
دا وطن د تورو نښانې لري

وګورئ په مینه تاریخونه یې
دا وطن د مینې افسانې لري

غېږه کې لعلونه او الماس لري
دا وطن پراخه پرګنې لري

تل به یې خپلواک بیرغ رپانده وي
دا وطن خوږې خوږې قیصې لري

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک

سرلیک ................................................................. مخ
شمله او لوپټه ................................................................. ۱
د فرهنګي او ادبي غوره کارونو ................................................................. ۱
ښکاره ثبوت ................................................................. ۱
شملې او لوپټې ................................................................. ۶
لویه خدایه ................................................................. ۹
خوږې مورې ................................................................. ۱۱
اعلان ................................................................. ۱۳
قلم ................................................................. ۱۵
د بابا وطن ................................................................. ۱۷
کاغذ باد ................................................................. ۱۹
د ترانو وطن ................................................................. ۲۰
غاښونه ................................................................. ۲۲
پسرلي ته ................................................................. ۲۳
افغاني درسونه ................................................................. ۲۴
کرکټ ................................................................. ۲۶
ګلان یو ................................................................. ۲۸
د ژوندون ترانه ................................................................. ۳۰
د پوهې برکت ................................................................. ۳۲
قلم او کتابونه لرو ................................................................. ۳۴
جنتونه ................................................................. ۳۶
د علم برکت ................................................................. ۳۸
باور ................................................................. ۳۹
افسوس ................................................................. ۴۰
جذبه ................................................................. ۴۱

(c) ketabton.com: The Digital Library


والیبال ........................................................ ٤٢
د ماهیپر لاره ........................................................ ٤٤
پوهې وزرونه ........................................................ ٤٥
لوړ فکر ........................................................ ٤٦
لمر ........................................................ ٤٧
شیرینې مورې ........................................................ ٤٨
ځر ........................................................ ٤٩
زما چم ........................................................ ٤٩
لاره ........................................................ ٥٠
کتابونه ........................................................ ٥٠
لوپټه ........................................................ ٥٣
مکتبي ........................................................ ٥٥
جنده ........................................................ ٥٦
د پوهې ارزښت ........................................................ ٥٧
درسونه لولو ........................................................ ٥٨
قلم ........................................................ ٦٠
ملي بیرغ ........................................................ ٦١
افغانان یو ........................................................ ٦٢
د کابل شپه ........................................................ ٦٤
د ښوونکي مقام ته ........................................................ ٦٦
سپوږمۍ ........................................................ ٦٨
څراغونه یو ........................................................ ٧٠
ګام په ګام ........................................................ ٧٢
شور ........................................................ ٧٣
زما زړه ........................................................ ٧٤
د جنګ اورونه ........................................................ ٧٦

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډیوه ........................................................... ۷۷
د شملو وطن ........................................................... ۷۹
پتمن ........................................................... ۸۱
ایمان ........................................................... ۸۱
قهرمان ........................................................... ۸۲
د معلم مقام ته ........................................................... ۸۳
کور د اتلانو ........................................................... ۸۵
د شملو او لوپټو خاوره ........................................................... ۸۷
پښتو ژبه ........................................................... ۸۹
ارمان وطنه ........................................................... ۹۲
سرحدي ترانه ........................................................... ۹٤
د مور مقام ته ........................................................... ۹٦
زمونږ تنکي ماشومان ........................................................... ۹۸
زما پیشو ........................................................... ۱۰۰
اوښان ........................................................... ۱۰۱
تاریخي کونړ ........................................................... ۱۰۲
د وینو داري ........................................................... ۱۰٤
لوپټې ........................................................... ۱۰٦
زړه راکاږي ........................................................... ۱۰۸
ګلاب ........................................................... ۱۱۰
دا مې کلی دا مې کور ........................................................... ۱۱۳
بدن ........................................................... ۱۱٥
ښځه ........................................................... ۱۱٦
بشر دوست ........................................................... ۱۱۸
زما بابا ........................................................... ۱۱۹
جنتي خاوره ........................................................... ۱۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستوری ........................................................................ ۱۲۳
شنه دنیا ........................................................................ ۱۲٤
نژاد ........................................................................ ۱۲٥
بایسیکل ........................................................................ ۱۲٦
ایمان ........................................................................ ۱۲۷
یو غنم ........................................................................ ۱۲۹
نومونه ........................................................................ ۱۳۰
جوار ........................................................................ ۱۳۱
شملې او لوپټې ........................................................................ ۱۳۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه او کور ودانی

د افغانستان ملي تحریک له هېواد پال او فرهنګپال شخصیت ښاغلي (محمد حلیم ملنګ) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته یې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ یې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا ددې اثر له شاعر او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې ددې اثر د لیکلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د الحاج محمد نواز حقیقت سانین لنډه پېژندنه:**

د ملي ارمانونو د فرهنګي ټولنې (۱۳۷۲)ل کال بنسټ ایښودونکی او مشر او د غونچه مجلې موسس دی، په (۱۳۹۰) ل کال د کوچنیانو د ادبیاتو د ښه کارونو په ویاړ د خپلو ولسونو او د هېواد د موثرو فرهنګیانو، لیکوالو او شاعرانو او د یو شمېر پوهنتونونو او اجتماعي او فرهنګي ټولنواو د هېواد د اسلامي جمهوري دولت د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له خوا په مینه د ماشومانو د ادب بابا لقب ورکړل شوی دی، نوموړی په (۱۳۳۹) ل کال کې د کونړ ولایت د ناړۍ ولسوالۍ په مرکزي کلي کې دې نړۍ ته سترګې غړولې دي.

زده کړې: د سیاسي او اجتماعي علومو ماستري لري.

په ادبي او فرهنګي ډګر کې یې ډېر زیات مډالونه، نشانونه او ستاینلیکونه اخیستي دي، چې اوس د هېواد یو پېژندل شوی لیکوال، شاعر او محقق دی.

چاپ شوي اثار: ۱- سپینه کوتره ۲- د لمر ترانې ۳- ختین کورونه ۴- د هیلو غوټۍ ۵- د رڼا لار ۶-پیالې ۷- ورکه سپوږمۍ ۸- کږې لارې ۹- د مورچل ترانې ۱۰- سون او روپ ۱۱- جنګي اس ۱۲- ګواري ژبه څنګه ولیکو ۱۳- زموږ سرحدونه ۱۴- د شهید همت یادونه ۱۵- د خپلواکۍ خواږه یادونه ۱۶- ګوار کوهستاني افغانان ۱۷- د ادب خزانه ۱۸- قلم ۱۹- د پوهې زېورات ۲۰- ګوار کوهستاني دودونه ۲۱ - اخر به څه کېږي؟ ۲۲- جنتي سوم ۲۳- بوراګان ۲۴- کو.کو.کو. وق.وق ۲۵- زمری او موږک ۲۶-ښکلی نورستان ۲۷- پلل ۲۸- د استاد ګوار یادونه ۲۹- شملې او لوپټې (همدا اثر)

فیاض حمید

کابل

۱۳۹۴/کب/۱۱

د افغانستان ملي تحریک
www.melitahrik.com

د خپرونو لړ: ۱۱۶

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**